مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومې لومړۍ | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۲۱مه | ٦٤٩مه گڼه


# د تاوتریخوالي په دوام؛

## په کابل ښار کې موټربم برید نهه کسان ووژل او شل نور یې ټپیان کړل



۳


ناپایه چاودنې او د چارواکو تکراري خبرې
۲ مخ



چشم دید سربازان امریکایی از عراق و افغانستان
۲ مخ



د سولې خندق؛ د جگړې او تاوتریخوالي دوام!
۳ مخ


## ولایت


۴ مخ


### غزني

په دغـه ولایت کې ټولټال ٦٣٥ بېلابېل ښـوونځي شـته، چې ۴۷۴۷ ښـوونکي لـري او ۲۴۵۹۸٦ زده کوونکـي پکـې پر زده کـړو بوخـت دي، چې ٤٥ سـلنه یې نجونـې جوړوي.



### کرنې ریاست: روان کال په سرپل کې ۵۲۰ کرنیزې پروژې گټې اخیستنې ته سپارل شوې



د سرپل د کرنې ریاست چارواکي وایي، چې د دغه ولایت د کرنې سکټور لپاره په ۱۳۹۹یم مالي کال کې ۲۷۹میلیونه او ۹٦٦زره او ۸۱ افغانۍ پراختیایي بودیجه ځانگړې شوې وه، چې په لگولو سره یې په سرپل کې سلگونه کرنیزې پروژې پلې شوي دي.

د یاد ریاست چارواکو زیاته کړې، چې د پیازو او کچالو ۲۲۰ زېرمتونونه، ۲۸۰ ممیزخونې او د تازه مېوو ۲۰ صفردرجې سړې خونې جوړول او ترڅنگ یې د سبو او مېوو د ٦۰ لمریزو وچوونکو دستگاوو وېش، په سرپل ولایت کې د پلې شویو پروژو په ډله کې دي.

د چارواکو په خبره، د ۱۳۹۹یم مالي کال په ترڅ کې د سرپل پر یوشمېر بزگرانو د غنمو ۲۹۳مېټریک ټنه اصلاح شوې تخمونه هم وېشل شوي او ترڅنگ یې د غنمو ۱۳، د سویابینو ۱۴ او د زعفرانو ۳۲ ننداریزې قطعې هم په دې ولایت کې جوړې شوې دي.

### نې: د ولایتي ویاندویانو د بستونو لغوه کول، د قانون خلاف کړنه ده

د ازادو رسنیو د ملاتړ اداره یا نې وایي چې د ولایتونو د ویاندویانو د بستونو لغوه کول د قانون خلاف کار دی. د یادې ادارې په وینا، امنیت شورا د سیمه ییزو ارگانونو له خپلواکې ادارې نه غوښتي چې هر والي د خبر ورکولو مسوول دی او له دې وروسته د ویاند درلودلو حق نه لري.


نی په یوې خپرې شوې خبرپاڼې کې ویلي: «حکومت اړ دی چې له نورو بنسټونو مخکې نافذ شوی قانون عملي کړي. که حکومت خپله قانون مات کړي، نو مشروعیت ته به یې زیان واوړي.»

نی دغه راز زیاته کړې چې والیان د ویاندویانو دنده نه شي ترسره کولی. د یادې ادارې په خبره، په ډېریو حالاتو کې والیانو ته د خبریالانو لاسرسی ناشونی یا ډېر ستونزمن وي. نی دغه راز له ولسمشرۍ ماڼۍ غوښتي چې د دغه کار مخه ونیسي.

دا په داسې حال کې ده چې د والیانو پر ویاندویانو هغه وخت بحثونه گرم شول چې وړمه ورځ د یادو بستونو د لغوه کېدو په اړه خواله رسنیو کې بحثونه راوپارېدل.

بلخوا د سیمه ییزو ارگانونو خپلواکې ادارې هم په یوې خبرپاڼې کې ټینگار کړې چې والیان به د خپلو ولایتونو اړوند خبرونه له رسنیو سره شریکوي. خبرپاڼه زیاتوي: «والیان به د خپلو ولایتونو وضعیت له رسنیو سره شریکوي. د ولایتونو د عامه اړیکو مدیران چې تر اوسه یې د ویاندویۍ چارې پر مخ وړلې، تر دې وروسته به د خبري ناستو تنظیم، د ټولینزو رسنیو پرمخ وړل ... مسوولیت ولري.»

### افغان جگړې مشروعیت بایللی، ښکېل اړخونه دې ببړنې اوربند وکړي




۵ مخ


### سمر: حکومت له مشورې پرته د بشري حقونو په چارو کې د دولت وزارت لغوه کړی



افغان حکومت د بشري حقونو په چارو کې د دولت وزیره سیما سمر له دندې لرې او یاد وزارت یې لغوه کړی دی.

یوې حکومتي سرچینې د نوم نه ښودو په شرط، د دغه خبر د تایید ترڅنگ ویلي چې حکومت غواړي ځینې اضافي تشکیلات لغوه کړي.

یادې سرچینې زیاته کړې چې د ولسمشر په لارښوونه د چارو اداره په خپلو ټولو تشکیلاتو له سره کتنه کوي . د سرچینې د معلوماتو له مخې، د همدې اقداماتو په اساس، سږ کال شپږ سوه میلیونه افغانۍ بودیجه یې کمه شوې، نو په همدې خاطر اړ دي چې ځیني اضافي تشکیلات لغوه کړي.

بلخوا د افغانستان د بشري حقونو پخوانۍ رییسې او د بشري حقونو په چارو کې د دولت اوسنۍ وزیرې سیما سمر رسنیو ته ویلي چې حکومت ورسره په دې برخه کې هېڅ ډول مشوره نه ده کړې او نه پوهېږي چې حکومت ولې دغه پرېکړه کړې ده. د نوموړې په وینا، په دغه وزارت کې ورسره اوو نورو کسانو کار کاوه .

د یادونې ده چې سیماسمر تر دې مخکې د ۱۷ کلونو لپاره د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون د رییسې په توگه هم دنده ترسره کړې ده.


Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملگری کړئ
Aksos
کابل دریمه ناحیه، دهڅوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

سرلیکنه

## ناپایه چاودنې او د چارواکو تکراري خبرې

پرون په کابل کې د ولسي جرګې د غړي خان محمد وردګ پر موټر په چاودنه کې لس کسان وژل شوي او تر شلو ډېر ټپیان دي. په دې برید کې په سیمه کې دوکانونو او کورونو ته پراخ مالي زیانونه اوښتي دي. د دې پېښې پړه چا پر غاړه نه ده اخیستې، خو حکومت یې د طالبانو کار ګڼي او وایي چې طالبانو په وروستیو کې په ښارونو کې د بریدونو پرېکړه کړې او پړه یې هم نه اخلي.
په کابل کې د بریدونو په تړاو ویل کېږي چې درې اړخونه لري. یوه برخه بریدونه رښتیا هم طالبان کوي چې د ځینو یې مسوولیت اخلي او پر ځینو هم خوله پټوي. بله برخه بریدونه بیا ویل کېږي چې د سولې مخالفې شبکې، چې پردی استخباراتي ملاتړ لري، کوي، څو د سولې پروسه تخریب کړي چې داعش هم پکې شاملېږي. د درېیمې برخې په اړه ویل کېږي چې ځینې دولتي او غیر دولتي سیاسي چارواکي او زورواکي د ګټو ټکر ته سره تللي او د خپلو مافیایي کړنو او فعالیتونو په لړ کې دغه بریدونه کوي. ښایي نور لاملونه هم وي، خو دا یې مهم او لوی لاملونه ګڼل کېږي.
دا چې بریدونه څوک کوي، دا یو اړخ، خو دا چې ولې پرله پسې داسې بریدونه کېږي او دولت یې په مخنیوي کې پاتې راغلی دی، دا د مسئلې بل اړخ دی. څوک چې دا بریدونه کوي، وحشیانه او غیر انساني کار کوي، ځکه په پروني برید کې هم وژل شوي بې ګناه وګړي دي او د سیمې اوسېدونکو ته هم پراخ مالي زیان اوښتی چې په هېڅ ډول نه توجیه کېږي، خو له دې سره سره دولتي چارواکي د دغو بریدونو په مخنیوي کې ناکام دي او له دې امله مخامخ پړه دي. دا بریدونه په وروستیو کې ښخې زیات شوي او کابلیان خو هر سهار د چاودنې په غږ پیلوي چې پر خلکو یې ډېر ناوړه اغېز هم کړی دی. هره ورځ حکومتي چارواکي وایي چې بریدګر یې نیولي، خو بیا هم پېښې کېږي. له بده مرغه چارواکي د کار پر ځای چیغې ډېرې وهي او هڅه کوي، خپل کوچني کارونه لوی وښیي، خو دا ستونزه نه حل کوي، بلکې ورسره بریدونه همغسې روان دي او لا زیاتېږي او خونړي کېږي. د امنیتي ادارو رهبری او مشری ته د سیاسي معاملو او نورو اړیکو په تړاو کسان راوستل کېږي چې بیا کمزورې او فاسده رهبري د ټولې اداري پر کار منفي اغېز کوي او پایله یې دا ده چې د دغه ډول بریدونو مخه نه نیول کېږي او هره ورځ داسې خونړۍ پېښې کېږي.
چارواکي دې نور د غندنې او خواشینۍ څرګندونو تمثیل پرېږدي او په عملي ډول دې د دغو پېښو د مخنیوي لپاره ګامونه واخلي. دښمن بد دی او غواړي دا ډول پېښې وکړي، خو حکومت د خلکو د ساتنې دنده لري او چارواکو ته پکار ده چې خپل مسوولیت ته پام وکړي. د دښمن په بد ګڼلو، خواشینۍ څرګندولو، غندلو او تشو هوایي خبرو او ژمنو خلک نه خوندي کېږي، بلکې د خلکو خوندیتوب عملي کار، زیار او مسلکي، په کارپوه او پاک چارواکي غواړي. له همدې کبله حکومت باید د خلکو امنیت ته لومړیتوب ورکړي او د دې چارې لپاره د فاسدو مسوولینو پر ځای، پر پاکو او مسلکي کسانو باید تکیه وشي.

# چشم دید سربازان امریکایی از عراق و افغانستان

نوشته: تیموتی کودو
مترجم: سید جمال اخگر
منبع: نیویارک تایمز

وزارت دفاع امریکا اخیراً خروج نیروهایش را در ۱۵جنوری اعلام کرد که باعث کاهش نیروهای امریکایی در عراق و افغانستان به ۲۵۰۰ نفر کاهش می‌یابد. این عقب‌نشینی آشکار می‌کند که نیروهای ما در ارتش از مدت‌ها قبل به این مساله پی برده بودند: ما باخته‌ایم.
من در سال ۲۰۰۹ برای حفاظت از امنیت خروج به عراق اعزام شدم. در طول استقرار ما یک بمب کنار جاده‌یی را در بزرگ‌راه اصلی خارج از فلوجه، جایی که قبلاً وجود بمب مثل دست‌انداز عادی بود، کشف و دفع کردیم. من به خانه برگشتم و آرزو داشتم که می‌توانیستم کارهای بیشتری انجام دهم، اما از دیدن پیشرفت قطعات نظامی که قبل از من با مشقت فراوان جنگیده بودند، خوشحال بودم.
وقتی چند سال بعد خواندم که دولت اسلامی (داعش) بر همان منطقه غلبه کرده، احساس کردم که تلاش‌های ما بی‌فایده بوده، اما استقرار من در افغانستان در سال ۲۰۱۰ بود که بیهودگی آن جنگ‌ها را به من بیشتر ثابت کرد.
هنگام حضورم در آنجا از مجموعه‌یی در هم‌تنیده از روستاهایی با خانه‌های کاه‌گلی واقع در مزارع کوکنار و جواری در منطقه موسی‌قلعه ولایت هلمند دفاع کرده بودم. ما به‌عنوان نوک شمالی حملات نظامی نیروی دریایی در هلمند، صفی را در کنار کندک تفنگ‌داران دریایی تشکیل داده بودیم که در امتداد دره رودخانه از جنوب تا مناطق مرکزی ادامه داشت، جایی‌که بازار و دولت در آنجا مستقر بود و پس از آن از ولسوالی سنگین به مرکز ولایت، لشکرگاه و بعد از آن از مارجه و گرمسیر عبور می‌کرد.
مردم اغلب از من می‌پرسند: افغانستان چگونه است؟ اما من هیچ‌وقت نتوانیستم پاسخی به این سوال بدهم: هر منطقه می‌توانیست به نحوی تفنگ‌داران دریایی را درگیر جنگ کند، با پیروزی‌ها و شکست‌هایی که فقط آن سربازها می‌دانند.
اغلب به لحظاتی از دوران اعزام خود می‌اندیشم که صدای شلیک مرمی یا انفجار مهیب بمبی قوی کنارجاده‌یی ناگهان زندگی مرا مالامال از هدفی روشن و ملموس می‌کرد. اولین روزی که بچه‌ها پس از بازگشایی مکتب در صف ایستاد شده بودند، اولین باری که شرکای تحت آموزش ما در اردوی افغانستان، بدون کمک ما ابتکار عمل را در حین گشت‌زنی به دست گرفتند و لبخندی نادر روی صورت یک روستایی بعد از اینکه کمک‌های اولیه زندگی پدرش را که در تیراندازی زخم برداشته بود، نجات داد را به یاد می‌آوردم. سعی می‌کنم به جای تلفات و کشتار، آن رفتارهای ناچیز کوچک را به یاد بیاورم، اما آن خاطرات برای تسکین درد ناشی از بی‌معنایی خارج از تحمل آن جنگ بزرگ کار چندان باثمری نیست.
وقتی برای پیوستن به تفنگ‌داران دریایی ثبت نام کردم، واقعاً به این ماموریت ایمان داشتم. من اعتقاد داشتم که این جنگ چیزی مانند دیموکراسی را به عراق و افغانستان می‌آورد، اما اکنون نمی‌توانیم درک کنم که چگونه می‌توانید هم‌زمان هم آدم‌کش باشید و هم ملت‌ساز. به این فکر می‌کنم که اگر شخصی را به اشتباه بکشید، فقط به تعداد شورشی‌ها افزوده‌اید. چگونه می‌توانیم با مسلسلی در دست در محله راه بروم و به مردم شلیک کنم و انتظار داشته باشم که در قلب و ذهن آن مردم رخنه کنم؟ دیموکراسی را نمی‌شود از یک قوطی بیرون آورد. چیزی نیست که متناسب با هر کشور باشد و این ایده‌آلی بود که امریکا هرگز نمی‌خواست از آن دست بردارد. باید به این واقعیت که ما اکنون در سال ۲۰۱۹ به‌جایی رسیده‌ایم توجه کرد که نظرسنجی‌های پیاپی نشان می‌دهند تقریباً دو سوم از کهنه‌سربازان در افغانستان و عراق گفته‌اند: «نبرد در این جنگ‌ها ارزشش را نداشت»، زیرا این نظریات نسبت به نظر مردم عادی امریکا که به جنگ نرفته‌اند، در رده بالاتری قرار می‌گیرد.
ایالات متحده توان ندارد تغییری معنادار در نتایج نهایی جنگ افغانستان ایجاد کند. من خودم را یک محافظه‌کار، یک جمهوری‌خواه می‌دانم. در سال ۲۰۱۱ خوانده بودم که همه چیز رو به بهبود است، اما به جرأت می‌توانیم بگویم وقتی به افغانستان اعزام شدم، دیدم که خشونت در حال افزایش است، غیرنظامیان در حال کشته‌شدن هستند و اردوی ملی افغانستان به شکلی مؤثر آموزش نمی‌بینند. رهبران ما به ما دروغ می‌گفتند. با قدرت نظامی نمی‌توان نتیجه‌یی سیاسی به‌دست آورد. «خبر بد این‌جاست که اگر ما این مکان را ترک کنیم، یک‌سال دیگر به یک ویرانه بدل خواهد شد.» «جدی؟» «اگر ما خارج شویم، این کشور به سرعت از هم می‌پاشد.» «به خاطر حفظ امنیت‌مان، باید رد پایی از ما برجا بماند یا ضمانتی داده شود که القاعده در منطقه دوباره جان نمی‌گیرد.» به این احتمال فکر می‌کنیم که اگر ما از افغانستان خارج شویم، جنگ داخلی جدیدی آغاز می‌شود. درست است! در حال حاضر هم جنگی داخلی در افغانستان جریان دارد. افغان‌ها در سال ۲۰۰۱ زمانی که ما برای اولین بار به آنجا رفتیم، درگیر جنگی داخلی بودند. آن‌ها سال‌ها جنگیده بودند و حضور ما در آنجا جلوی آن را نمی‌گیرد. ما به این دلیل نیروهای خود را برای مدتی نامحدود آنجا نگه می‌داریم که فکر می‌کنیم ترک کامل این کشور، این خلا را به‌وجود می‌آورد.
این ایده‌یی است که باید مورد بررسی قرار بگیرد. قرار است واقعاً نیروهای‌مان برای کنترل مسلمانان و مردم افغانستان دراین سرزمین بمانند. من فکر نمی‌کنم مردم امریکا از سال ۲۰۰۱ یا ۲۰۰۲ به بعد تاکنون واقعاً مرورگر خود را درمورد جنگ افغانستان به روز کرده باشند. همه کسانی که مسؤل حوادث ۱۱سپتامبر بودند، کشته شده‌اند. دشمن اصلی در افغانستان طالبان است. برای امریکایی‌ها بسیار مهم است که درک کنند طالبان، القاعده نیست.
القاعده برای جنگ با ایالات متحده مصمم است، اما طالبان این ایده را رد می‌کنند. دغدغه آن‌ها اسلامی نبودن جهان است. این است که افغانستان را به یک امارت اسلامی تبدیل کنند. واقعیت فعلی این است که از نظر تاکتیکی در افغانستان، طالبان در موقعیت بهتر قرار دارند. طالبان منطقه خارج از محدوده ما را در اختیار دارند، ما در این سو و آن سو می‌جنگیم. سپس مجبور می‌شویم برای گشت بیرون برویم، حتی اگر گشت احمقانه باشد؛ زیرا به محض اینکه از جبهه بیرون بیایید، دیگرهیچ محافظی ندارید.
این درس بزرگی است که باید یاد بگیریم. دیپلوماسی و بازداشت‌های هدفمند نظامی تنها چیزی است که شما را در امان نگه می‌دارد. چه فردا برویم و چه ۱۰سال دیگر این کشور را ترک کنیم، نتیجه همان است. نیمی از کشور دوباره تحت سلطه طالبان قرار خواهد گرفت و زنان به زندگی قرون وسطایی بازخواهند گشت، تا زمانی که مردم افغانستان به شکلی واحد به شیوه خودشان برای مساله خودشان به راه حلی برسند.
گفتن اینکه باید برویم مثل نوشیدن زهر است، اما این استدلال که ما باید در آنجا بمانیم تا از حقوق زنان محافظت کنیم، دیگر کافی نیست. ما هر کاری که انجام دهیم نمی‌توانیم ضمانت کنیم که از محروم‌ترین افراد در افغانستان و از حقوق زنان محافظت می‌شود. من به چشم خود در آن‌جا مردانی را دیده‌ام که می‌دانیستم سرانجام خود را منفجر خواهند کرد و به شما خواهم گفت که آنچه بیش از جنگ نگرانم می‌کند، کسانی هستند که هنوز کشته نشده‌اند. کودکانی، امروز (تأکید می‌کنم امروز) به جنگ می‌پیوندند که پس از ۱۱سپتامبر به‌دنیا آمده‌اند. ظرف شش ماه، آن‌ها در افغانستان خواهند بود.
اندکی پس از بازگشت من از افغانستان در سال ۲۰۱۱، رئیس‌جمهور بارک اوباما اعلام کرد که اسامه بن لادن در حمله‌یی به مخفی‌گاهش در پاکستان، جایی‌که پس از فرار از افغانستان سال‌ها در آنجا زندگی می‌کرد، کشته شده است. همان‌طور که شاهد جشن و سرور مردم در خارج از کاخ سفید و خارج از منطقه صفر بودم، امید داشتم که جنگ سرانجام به پایان رسیده باشد، اما حتی آن زمان هم احساس پیروزی نمی‌کردم.
از زمان حملات ۱۱سپتامبر درگیری چنان وسیع شده بود که مرگ او به بی‌اهمیتی یک پاورقی بود. کشته‌شدن یک ملای برکنارشده از قدرت در برابر اهمیت تجربیات شخصی اخیر خودم در جنگ، بی‌رنگ بود.
در ماه اگست ۲۰۱۵ بود که از نظر من جنگ در افغانستان با شکست مواجه شد، چند سال پس از اعزام شخصی من، هنگامی که طالبان موسی‌قلعه را بازپس گرفتند، پنج نفر از همرزمان من در دفاع از آن جان باختند. پس از تصرف طالبان، متفقین در حملات هوایی همان مرکز دولتی را که برای نگهداری آن بسیار فداکاری کرده بودیم، بمباران کردند.
بعدتر یکی از اعضای پارلمان از ولایت هلمند آن ساختمان را چنین وصف کرد: «به طور کامل از روی زمین محو شد.» همراه با نابودی آن بنا، تمام امیدم به اینکه فداکاری‌های من و بسیاری دیگر از همرزمانم، بیهوده نبوده از بین رفت.
هزینه این جنگ‌ها نجومی بوده است: تقریباً ٦ تریلیون دالر هزینه دولت با هزینه‌یی که وزارت دفاع صرف کرد و برای هر مالیات‌دهنده امریکایی حدود ۷ هزار دالر هزینه در بر داشت. علاوه بر این، جانبازان جوان امروزی با آسیب‌دیدگی روحی و جسمی و همچنین بیماری ناشی از «عامل نارنجی» جنگ ما روبرو هستند: گودال‌های محل سوخت مواد سمی که دود آن‌ها را استشمام می‌کردیم.
این جنگ از این هم پرهزینه‌تر است: ۵۱۵ هزار کشته در عراق، افغانستان و پاکستان، از جمله بیش از ۲۶۰ هزار غیرنظامی و برای چه؟ عراق همچنان مکانی است که در آن دیموکراسی ناپایداری شکل گرفته و مملو از شبیه نظامیان است، در عین زمان افغانستان محصور در مناقشه‌یی با شورشیان طالبان مانده و گفتگوهای صلح به بن‌بست رسیده‌است.
هر دو کشور در رسیدن به اهداف آزادی و دیموکراسی که رئیس‌جمهور جورج دبلیو بوش این جنگ‌ها را به خاطرشان آغاز کرده بود، ناکام ماندند. از اهداف پرزیدنت اوباما هنگام فرستادن من و ۳۰ هزار سرباز دیگر به افغانستان و از ادعاهایی که وی هنگام اعلام پایان عملیات جنگی در عراق داشت، چیزی نماند جز اینکه شاهد بودیم دولت اسلامی (داعش) این دست‌آوردها را از بین برد. به نظر نمی‌رسد پرزیدنت ترمپ حتی برای ۵۰۰۰ نظامی که در افغانستان و عراق باقی می‌مانند، هدفی در سر داشته باشد.
من نیز مانند بسیاری از افرادی که به خدمت رفتند، نامه‌یی نوشتم تا اگر در حین مأموریت کشته شوم از من برجا بماند. این نامه با اطمینان به دوستان و خانواده‌یی که پشت سر جا می‌گذاشتم‌شان آغاز شد: «ارزشش را داشت.» من آن زمان اعتقاد داشتم که ما یک وظیفه اخلاقی داریم که نه‌تنها از هموطنان امریکایی‌مان محافظت کنیم؛ بلکه به مردم افغانستان و عراق برای زندگی در صلح و آرامش یاری می‌رسانیم.
این تعهد به قوت خود باقی است اگرچه عملی‌شدنش ناممکن است. در عوض من دیگر به این جنگ ایمانی ندارم و می‌دانم که در کتاب‌های تاریخ از این جنگ‌ها نه به‌عنوان نبردی برای دفاع، بلکه به عنوان لکه‌های ننگی بر افتخار ملی یاد خواهد شد.
مایکل والزر، نظریه‌پرداز و فیلسوف سیاسی در کتاب «جنگ‌های عادلانه و ناعادلانه» می‌نویسد که هنوز هم مهم است در مورد کسانی که در جنگ کشته شده‌اند، بگوییم: «بیهوده جان‌شان را از دست نداده‌اند»، وقتی نمی‌توانیم این حرف را بزنیم، یا فکر می‌کنیم نمی‌توانیم، عزاداری‌مان آمیخته به خشم می‌شود. من اضافه می‌کنم که ما شرم را نیز باید به آن بی افزاییم.
من درک می‌کنم که شرم یک ویژگی امریکایی نیست، اما این کار تواضع به همراه دارد. متأسفانه، نسل من مجبور شد درس ویتنام را در عراق و افغانستان دوباره فرا بگیرند؛ اما همان‌طور که با شکست خود مواجه می‌شویم، این فرصت را داریم که مطمین شویم نسل‌های آینده را فدای چنین حماقتی نمی‌کنیم.
و با این کار هنوز جای امیدواری‌ست که از این فاجعه دست‌آوردی داشته باشیم: هر کاری که در توان‌مان باشد انجام دهیم تا جلوی جنگ‌های بیشتر را بگیریم و مطمین شویم که اگر زمانی جنگ بعدی رخ داد، ارزشش را داشته باشد.

# د سولې ځنډ؛ د جګړې او تاوتریخوالي دوام!

لیکنه: بخت الله بیان

په بین الافغاني مذاکراتو کې اوږد ځنډ د دې سبب کېږي، څو په هېواد کې د ناامنۍ کچه لا ډېره او دوارو ښکېلو لورو ته د تلفاتو او مرګ ژوبلې ګراف په بې ساري ډول پورته شي او په هېواد کې د ناامنۍ او تاوتریخوالي لمن پراخه، ترهګریز بریدونه زیات او د افغانانو د جنګ او جګړې کټوه همداسې ګرمه وساتل شي.
د سولې بین الافغاني مذاکراتو کې ۲۳ ورځنی ځنډ په داسې حال کې رامنځ ته کېږي، چې د روان میلادي کال په لومړیو کې په امریکا او نورو عیسوي هېوادونو کې د عیسویانو اختر یا کریسمس لمانځل کېږي. له همدې امله د سولې په خبرو کې اوږده دمه منځ ته راغله. له کله نه هم چې د سولې خبرې پیل شوې، تل په یو نه یو ډول د سیمو هېوادونو له لوري متضررې شوې او د انحصار تر برېده رسېدلې دي. د سولې یاد ملي بهیر یې په بېلابېلو نومونو او بېلابېلو پلمو له ځنډ او ځنډ سره مخ کړی دی.
کله چې په ۲۰۱۳ میلادي کال کې طالب استازي د متواترو خبرو پر مهال سیاسي بلوغ ته ورسېدل او په قطر کې یې د سیاسي تحرکاتو د پیل زمینه مساعده او د سیاسي دفتر د پرانیستل کېدو اجازه یې تر لاسه کړه؛ دوی په سیمه کې د یوه نوي سیاسي ځواک په توګه مطرح شول او د سیاسي ځواک ترڅنګ یې د پخوا په څېر پر پوځي ځواک هم تېوله تکیه، تګلاره او انګېزه متمرکزه کړه.
هغه وو چې په ۲۰۲۰ میلادي کال کې د فبروري په ۲۹مه د طالبانو او امریکایانو تر منځ د دوحې یو تاریخي هوکړه لیک لاسلیک کړ، چې له مخې به یې طالب جنګیالي پر امریکایانو او هم به امریکایان پر طالبانو بریدونه نه کوي.
اوس چې د طالبانو سیاسي پلاوي د ملا برادر په مشرۍ پاکستان ته سفر کړی دی، یاد پلاوی به په پاکستان کې د لومړي وزیر عمران سربېره، د بهرنیو چارو له وزیر شاه محمود قریشي او د آی اېس آی له مشرانو سره هم د ترلو دروازو تر شا وګوري. له بلې زاویې پاکستاني چارواکو او سیاسیونو یې بیا د افغان سولې په غبرګون کې بېلابېل نظریات او ورېاندوینې وړاندې کړې دي. د افغانستان لپاره د پاکستان ځانګړي استازي محمد طارق بیا په تازه او نویو څرګندونو کې ویلي، چې پاکستان ته د طالبانو سفر د دوی د سیاستونو یوه برخه ده. نوموړی وایي، دا سفر د پاکستان د سیاست یوه برخه ده، چې له مخې یې غواړي په افغانستان کې دایمي سوله او ثبات رامنځ ته شي او روان تاوتریخوالی د خبرو او مذاکزاتو له لارې حل او فصل شي.
د دې تر څنګ بیا د پاکستان لومړي وزیر عمران خان افغان ولسمشر محمد اشرف غني ته د ټیلیفون له لارې د سولې په مورد د همکاریو ژمنه بیا تازه کړې. عمران خان د تېر په څېر یو ځل بیا ژمنه وکړه، چې په ټول توان سره به په افغانستان کې اوربند د تامین او تاوتریخوالي د له منځه وړلو لپاره هڅه کوي؛ خو پاکستاني چارواکو په دغو څرګندونو کې د پاکستان ملي عوامي ګوند مشر او ملتپال سیاستوال اسفندیار ولي خان ویلي که پاکستان له زړه او په رښتینې مانا وغواړي، افغانستان سولې ته رسېدلی شي. نوموړي زیاته کړې چې په افغانستان کې سوله او ثبات د پاکستان په خیر هم ده.
خو افغان ولسمشر محمد اشرف غني کندهار ولایت ته د خپل سفر پر مهال یوې ناستې ته ویلي، چې طالبان سولې ته ژمن نه دي او نه غواړي چې د سولې مذاکرات په بریالیتوب سره پیل شي او د سولې فرصت دوی په لوی لاس بیا بیا ضایع کوي.
اوس پوښتنه او اندېښنه دا ده، چې پاکستان به د تېر په څېر هغه کړې ژمنې عملي کړي او که هسې د کاذب سیاست او د دوه مخیتوب یوه بله لوبه چې اصلي طرحه کوونکي او تمویلېدونکي هېوادونه یې د سیمې هېوادونه دي، پیل کړې ده. ځکه پاکستان تر دې وړاندې هم په ځلونو له افغانستان سره دوه مخې لوبه کړې ده، ښایي د پاکستان دوه مخیتوب او منحوسې څېرې دغه روانه لړۍ دومره په اسانۍ سره پای ونه مومي؛ ځکه پاکستان تل د افغانستان په جنګ او جګړې کې لالونه لوټلي دي، نو له همدې امله نه غواړي په افغانستان کې سوله او ثبات رامنځ ته او افغانان په یوه تغر سره راټول شي.
افغان ولس بیا د متواترو غوښتنو پر اساس له دوارو ښکېلو غاړو څخه غوښتي، چې اوربند ته لومړیتوب ورکړي. افغان ولس له طالب پلاوي څخه په وار وار غوښتي چې د نورو د خوښۍ لپاره د افغانانو هیلې په ناهیلۍ نه بدلوي او اوربند ته لومړیتوب ورکړي.
خو طالبانو بیا د اوربند په خبرو پسې سر نه دی ګرولی او د دایمي اوربند خبرې یې رد کړې دي.

# د تاوتریخوالي په دوام؛


## په کابل ښار کې موټربم برید نهه کسان ووژل او شل نور یې ټپیان کړل



تېره ورځ یو ځل بیا د کابل ښاریانو ورځ په یوه درنه چاودنه پیل شوه. موټربم برید د کابل لوېدیځ ته د خوشحال خان سیمه ولړزوله. په پېښه کې د درنو مالي زیانونو ترڅنګ ملکي تلفات هم رامنځته شوي دي. د دغه موټربم هدف په ولسي جرګه کې د کابل د خلکو استازی حاجي خان محمد وردګ و. نوموړی په دې پېښه کې ټپي شوی، خو ویل کېږي چې څو ساتونکو یې خپل ژوند بایللی دی. افغان حکومت دغه برید غندلی او په خبره یې، طالبانو د جګړې په ډګر کې ماتې خوړلې، نو ځکه اوس په ښارونو کې دغه ډول بریدونه کوي.
کابل په دې وروستیو کې نا امنه شوی دی. چسپکي ماینونه، د سړک غاړې ته ځای پر ځای شوي ماینونه او تازه موټربم برید هغه څه دي چې د کابل ښاریانو ارام یې اخیستی دی. تېره ورځ د همدې نا امنیو په دوام د کابل ښار د پنځمې امنیتي حوزې په مربوطاتو کې د ولسي جرګې پر غړي حاجي خان محمد وردګ موټربم برید وشو. په دې پېښه کې نوموړی ټپي شوی دی. د کورنیو چارو وزیر تر پېښې څو ساعته وروسته دغې سیمې ته ورسېد او له خبریالانو سره یې خبرې وکړې. مسعود اندرابي خبریالانو ته وویل چې دا برید وسله والو طالبانو کړی دی.
هغه وایي چې طالبانو د جګړې په ډګر کې ماتې خوړلې، نو ځکه اوس په ښارونو کې د دغه ډول بریدونو په ترسره کولو وېره خپروي. اندرابي دغه راز وایي چې په پېښه کې نهه کسان وژل شوي او د حاجي خان محمد په ګډون ۲۰ نور ټپیان شوي دي.
د اندرابي په وینا: «په دغه چاودنه کې زموږ نهه ملکي هېوادوال شهیدان شوي. تر اوسه د ۲۰ تنو ټپیانو راپور ورکړل شوی چې ټول ټپیان په خپل وخت روغتونونو ته انتقال شوي دي. په ټپیانو کې په کابل کې د ولسي جرګې یو وکیل خان محمد وردګ هم شامل دی او وضعیت یې ښه دی».
د کورنیو چارو وزارت له لوري په خپره شوې اعلامیه کې هم راغلي چې ترهګرې ډلې غواړي د دغه ډول جنایتونو په ترسره کولو سره د سولې بهیر تخریب کړي او د خلکو ترمنځ وېره خپره کړي. د سرچینې په خبره، افغان حکومت د ترهګرو ډلو پر وړاندې خپلې مبارزې ته ادامه ورکوي او اجازه به ور نه کړي چې خپلو موخو ته ورسېږي.
سرچینه کاږي: «دا ډول تروریستي بریدونه د افغانانو پر وړاندې د ترهګرو د جنایت دوام ښیي. تروریستان د ویجاړونې او وژنې کرښلاره لري. دوی هر ځل د جګړې په ډګرونو کې له ماتو سره مخ کېږي او قطعاً خپلو شومو موخو ته نه رسېږي».
ولسي جرګې هم دغه پېښه تایید کړې ده. د ولسي جرګې غړي وایي چې دوی دغه برید په کلکو ټکو غندي او پر حکومت یې غږ کړی چې د ولسي جرګې د غړو په امنیت کې خپلې هڅې ډېرې کړي.
د ولسي جرګې لومړی مرستیال محمد میرزا کټوازی وایي، طالبان غواړي د جګړې له لارې واک ته ورسېږي، نو ځکه یې دغه ډول بریدونه پیل کړي دي. د ده په خبره: «موږ باور لرو چې طالبان لا هم غواړي د پاکستان په اشاره د زور له لارې واک ترلاسه کړي، ځکه دوی چې د جهاد کوم نوم مخکې کړی وو اوس خو جګړه له بهرنیانو سره نه‌ده، بلکې دوی خپل وروڼه شهیدانوي، دوی غواړي چې هره ورځ چاودنې وکړي، وژنې وکړي او حکومت د ټوپک په وسیله ویرځوي».
سره له دې چې وسله والو طالبانو د برید په اړه غبرګون نه دی ښودلی او نه یې هم د دغه پېښې مسوولیت منلی، خو افغان حکومت دغه موټربم برید د طالبانو کار بولي. کورنیو چارو وزارت وایي چې وسله والو طالبانو په تېرو درېیو میاشتو کې لسګونه ملکي افغانانو ته مرګ ژوبله اړولې ده. د سرچینې په خبره: «سله‌والو مخالفینو له لوري په تېرو درېو میاشتو کې په دې هېواد کې ۳۷ انتحاري او ۵۱۰ ماین چاودنې شوي چې له امله‌یې ۵۰۰ ملکیان وژل شوي او ۱۰۵۰ نور ټپیان شوي دي».
په کابل کې داسې د عامو وګړو په یوه هستوګنیزه سیمه کې داسې مهال موټربم برید کېږي چې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد دلته د اوربند د تامین او ژر تر ژره د تاوتریخوالي د کمېدو غوښتنه کړې ده. نوموړي ویلي، تاوتریخوالی د منلو نه دی او دواړه لوري باید توافق ته د رسېدو لړۍ چټکه کړي.

# د کرونا نوې او ګواښوونکې بڼه؛

## راپورونه: په اروپا کې د کرونا نوې او ګواښوونکې بڼه په چټکۍ د پراختیا په حال کې ده




د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ٧٦ میلیونه او ٧٣٢ زره او ۱۱۳ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ٦٩۴ زره او ۱۵۲ کسان مړه شوي او نږدې ۵۴ میلیونه ترې بېرته رغېدلي دي.
د دغو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا ویروس له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د دغه ویروس ټولې ۱۸ میلیونه او ٧٨ زره او ٩٢۵ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۳۲۳ زره او ۴۰۴ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.
له امریکا وروسته هند د لس میلیونه او ۳۱ زره او ٦۵٩ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د اووه میلیونه او ۲۱۳ زره او ۱۵۵ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د دوه میلیونه او ۸۳۸ زره او ۳٧٧ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د دوه میلیونه او ۴٦۰ زره او ۵۵۵ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.
دغه راز ترکیه، برېټانیا، ایټالیا، هسپانیا او ارجنټاین په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.
بلخوا د راپورونو له مخې، د کرونا ویروس د نوې بڼې له کبله چې په انسانانو کې په چټکۍ خپرېږي، په اروپا کې د خطر زنګونه وهل شوي دي. د برېټانیا لومړي وزیر په لندن او د انګلستان په نورو برخو کې چې شاوخوا ۱٦ ملیونه وګړي پکې مېشت دي، د سختو محدودیتونو اعلان کړی دی. د برېټانیا لومړي وزیر بورېس جانسون او د دغه هېواد ساینسپوهان وایي، د کرونا ویروس نوې بڼه د مخکېنۍ هغې په پرتله ٧۰ سلنه د انتقال وړ ده.
بلخوا روغتیایي متخصصان وایي، چې داسې شواهد نه شته چې څرګنده کړي، د ویروس نوې بڼه دې د زیاتو کسانو د مړینې یا شدیدې ناروغۍ سبب شوې وي. روغتیایي متخصصان پر دې باور دي چې د کرونا ویروس ضد واکسین د دغه ویروس د نوې بڼې پر وړاندې هم اغېزناک تمامېږي.
د برېټانیا چارواکو او د روغتیا نړیوال سازمان ویلي چې د ویروس د نوې بڼې د چټکې خپرېدو په تړاو له نږدې په تماس کې دي. د برېټانیا د ساینسي علومو لوی افسر پاټریک ولنس ویلي، چې د ویروس نوې بڼه به ښایي په نورو هېوادونو کې هم وي، خو په برېټانیا کې اوس پیل شوې ده.

## د کتاب خبرې

# د جاسوسي پېښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. ايس دولت، اسددوراني او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### درېيمه برخه
### کشمير




دولت: مشر يادونه وکړه چې په کشمير کې د وضعې ښه کېدل به د پاکستان نفوذ ته لار هواره کړي، خو ما تر اوسه د دې کوم څرک نه دی احساس کړی. ايا همداسې به وشي؟ د کشميريانو، د هنديانو او د سولې له نظره ځينو پرمختگونو ته بايد لاره هواره شي. جنرال د بس يادونه وکړه چې دواړو خوا ته فعال شوی و. زه وايم چې د اورگاډي تگ راتگ، د خلکو تگ راتگ او د توکو لېږد رالېږد ته بايد لار هواره شي او ژوند بايد اسانه شي. پرېږدئ چې د کنټرول کرښې په اوږدو کې سوله راشي، هلته ژوند تنگ دی، ځکه چې دوامداره تاوتريخوالی حاکم دی. گڼ شمېر خلک په وېلچرونو کې گرځي، په جگړو کې يې د خپل بدن غړي له لاسه ورکړي دي. که نور څه نه وي، نو پولې ته څېرمه خلکو ته بايد د سولې په اړه ډاډ ورکړل شي. کله چې د دواړو هېوادونو تر منځ د کرکېچ په وخت کې د سرينگر خلک د نا امنۍ احساس کوي، نو پر پوله پراته ولسونه به څنگه احساس ولري؟ کشميري ملگرو به له ما پوښتنه کوله: ايا بيا خو به جگړه نه کېږي؟

دوراني: د کشمير پر سر د هند - پاکستان ترمنځ د اړيکو په اړه زما ارزونه پر ځمکنيو حقايقو او احتمالاتو ولاړه ده. د هيلو او ارمانونو په اړه خبرې نه کوم. زه يوازې پر ځمکه شته حقايق بيانوم.

زه اکثره پر ريالستيک او پراگماتيک ليدلوري باور لرم. يوازې له دوو مواردو پرته، چې يو يې په امرتسر کې و. داسې نه ده چې پر پاکستان دې پخوا نيوکې شوې نه وي، بلکې د ټولو نورمونو خلاف رټل شوی او سپک شوی. پاکستان ممکن له ځان سره ويلي چې له دې ډول چلند څخه ځورېږي. دا کار يو ځل د هند په خاوره کې چې د سوېلي اسيا مېلمه پال بلل کېږي، وشو. مودي او اشرف غني (کوم چې زه يې افغان نه بولم) ډيپلوماټيک نورمونه تر پښو لاندې کړل، داسې شيان يې وويل چې خپل خلک يې په کور کې پرې وشرمېدل. دويم، کوم څه چې له کشمير سره کېږي، تر وانې وروسته، کله چې د کشمير مشرتابه، محبوبه او نور پر شا شول او د ناچارۍ احساس يې کاوه، حتی د هغوی له ولس سره يوه سمبوليکه خواخوږي هم ونه ښودل شوه، چې بلاخره جگړه يې وبايلله.

دولت: خبره همدا ده ښاغليه، هند او پاکستان دواړه په کشمير کې ډېر څه کولی شي. لکه څرنگه چې موږ يې په افغانستان کې هم کولای شو. زه کشمير ځکه يادوم چې موږ د کشميريانو په اړه تر نورو ښه پوهېږو. هغوی زموږ د هېواد يوه برخه ده، زموږ هره ورځ له هغوی سره سر و کار دی. هغوی تاسو ته غوږ نيسي، له تاسو ډارېږي، خو موږ هغوی ښه پېژنو.

دوراني: زه په ډېره سړه سينه او د خپلې ارزونې له مخې درته ويلی شم چې: ما تر اوسه داسې کوم څه نه دي ليدلي.

دولت: نه، نه زه ستا له هرې خبرې سره مخالف نه يم.

دوراني: په دې اړه که ته د بدلون فکر کوې، اجازه راکړه چې پوه شم.

دولت: زه فکر نه کوم چې بدلون به راشي. خو که وغواړو، ډېر بدلون راوستلای شو.

دوراني: کولای يې شو.

دولت: په کشمير او افغانستان دواړو کې.

دوراني: د کيسې اخلاق دا ايجابوي چې هند او پاکستان بايد د دې مديريت موږ ته راوسپاري. ايا دا په کتاب کې وليکل شي؟

دولت: يو کشميری دی، غوره گڼم چې نوم يې وانخلم، هغه د نورو کشميريانو په څېر ښه پوهېږي او هغوی تر ما او تا ښه پوهېږي ښاغليه. هغوی پوهېږي چې زه او ته په دې دويم پړاو ناسته کې څه وايو، همدارنگه د کتاب، انځورونو، ويسکي او ټولو شيانو په اړه ښه پوهېږي. هغوی له دې ټولو خوند اخلي. ياد کشميري راته وويل کله چې تاسو له دوراني صېب سره ملاقات کوی، موږ هم درسره بوځئ. موږ درې واړه کولای شو يو تصميم ونيسو.

سېنها: جنرال صېب به کله کشمير ته لاړ شي؟

دولت: زه چې هر کله مري ته لاړم هغه کولای شي سرينگر ته لاړ شي.

دوراني: مري ته تگ کومه غټه خبره نه ده.

دولت: دا ځای مې ځکه ياد کړ چې يوه ورځ مې هغه ته وويل چې مري ته به لاړ شو او بير به وڅښو. هغه وويل چې نه زه درته د مري ودکا په اسلاماباد کې درکوم. **دوام لري...**

# غزني

◀ حشمت الله نوري



غزني د افغانستان يو له مهمو او مرکزي ولايتونو شمېرل کېږي. دغه ولايت د هېواد په دويمه درجه ولايتونو کې راځي او د خورا ډېرو لرغونو ابدو لرونکې او غني تاريخي مخينه لري. غزني د جغرافيايي موقعيت له پلوه د شمالي عرض البلد په ۳۳ درجو او ۳۳ دقيقو او همدارنگه د ختيځ طول البلد په ٦٨ درجو او ۲۵ دقيقو کې پروت دی.

غزني ښار له کابل څخه په ١٤٥ کيلومترۍ کې د کابل-کندهار د لويې لارې پر سر پروت دی. د دغه ولايت شمال ته ميدان وردگ او باميان، ختيځ ته يې پکتيا، پکتيکا او لوگر، سوېل ته يې زابل او لوېديځ ته يې د اروزگان او زابل ولايتونه پراته دي.

د دغه ولايت پراخوالی ۳۲۷۹۷ کيلومتره مربع ښودل شوی او د وگړو شمېر يې شاوخوا يو نيم ميليون تنه اټکل شوی دی.

غزني د اقليم له مخې په اوړي کې تود او په ژمي کې يې هوا ډېره سړېږي، په دغه موسم کې يې د حرارت درجه ان تر منفي ۲۰ -۳۰ پورې رسېږي، د ناور سيمه چې د ټول کال په اوږدو کې يې تودوخه د سانتي گراد له +۲۰ درجو څخه نه لوړېږي، له خورا يخو سيمو څخه يې گڼل کېږي.

د کال په اوږدو کې يې ۱۸۸ ورځې نسبتاً گرمې او د اکتوبر مياشتې له ۱۲مې د اپرېل تر لسمې پورې يې هوا سړه او باراني وي. په دغه ولايت کې د کلني اورښت منځنۍ اندازه ۲۲۹٦ ملي متره اټکل شوې او ځمکه يې د سمندر له سطحې څخه ۱۸۰۰متره لوړوالی لري.

**ولسوالۍ**

دغه ولايت د مرکز په گډون ۱۸ ولسوالۍ لري: اندړ، مقر، قره باغ، گيلان، واغظ، گيرو، ده يک، ناور، جاغوري، مالستان، رشيدان، اب بند، خوگياڼي، ناوه، جغتو، زنخان، اجرستان او خواجه عمري.

د دغه ولايت اوسېدونکي له دريو لويو قومونو پښتون، هزاره او تاجک څخه جوړ دي او له دې سره په څنگ کې نور واړه قومونه لکه بيات، سادات او سکان هم په دغه ولايت کې ژوند کوي او ډېرى ولسوالۍ يې پښتون مېشتې دي.

**د اوبو بندونه**

په غزني ولايت کې پنځه د ابو بندونه شته، چې مهم هغه يې اب استاده، سلطان بند، سرده بند، زنخان بند او زرسنگ بند دي. دغه بندونه د دغه ولايت په بېلابېلو ولسواليو کې دي، که څه هم چې په وروستيو کلونو کې يې د وچکاليو له امله اوبه کمه شوې؛ خو بيا يې هم کروندگر له اوبو په پراخه کچه استفاده کوي او ډېری ځمکې ترې خړوبېږي.

**کلتور**

په دغه ولايت کې کلتوري هلې ځلې له لويه سره په ۱۳۳۱ لمريز کال کې د سنايي اونيزې په خپرېدو سره چټکې او په رسمي ډول پيل شوې. که د غزني تېر تاريخ ته پام وکړو، دغه ولايت په تېر کې هم له تاريخي او علمي پلوه د عرفان او ادب د يو علمي مرکز په توگه پېژندل شوی و؛ د سلطان محمود غزنوي په دوره کې په سلگونو شاعران، عارفان او ليکوالان لکه: سنايي غزنوي، سيدحسن غزنوي، مسعود سعد سليمان، فروخي سيستاني، ابوريحان البيروني او نور له بېلابېلو ښارونو دغه ولايت ته راټول شوي وو.

همدا راز په غزني کې ډېرې کلتوري ټولنې شته، لکه د سنايي ټولنه چې په ۱۳۵۰ لمريز کال کې د نياز محمد خوشه په مرسته چې ډېر فرهنگيان يې وهڅول، رامنځ ته شوه. لونگ ټولنه، د فرهنگيانو ټولنه، کاتب ټولنه، البيروني ټولنه، پسرلی ټولنه، قره باغ ټولنه، ارشاد ټولنه، زمزمه کلتوري ټولنه، غزنه باستان اجتماعي ټولنه، کليوال ادبي ملگري ټولنه او داسې نورې ټولنې په ياد ولايت کې جوړې شوې دي.

دا هره ټولنه خپلې دوره‌يي غونډې لري او يا له دې لارې د نويو شاعرانو او ليکوالانو د کتابونو چاپېدو ته زمينه هم برابروي، خو په دې وروستيو کې په غزني کې د اطلاعاتو او کلتور رياست له لوري څو پرله‌پسې فرهنگي ناستې او همدا راز مشاعرې جوړې شوې او دا لړۍ اوس هم روانه ده.

په غزني کې د نوي دولت په راتگ سره د پوهنې رياست عامه کتابتون او د اطلاعاتو او کلتور رياست پر البيروني کتابتون سربېره؛ نږدې ۲۵ کتابپلورنځي شته او د دې تر څنگ په ځينو شخصي پوهنتونونو او ښوونځيو کې هم ورته لوی لوی کتابتونونه شته چې هر وخت ورنه زده کوونکي او نور د مطالعې مينه وال گټه اخلي.

**تاريخي ابدې**

غزني ولايت ۱۵۰۰ کلن او له اسلام نه مخکې تاريخ لري، په غزني کې ډېرې تاريخي سيمې او تاريخي ابدې شته، خو ورته د نه پاملرنې له امله دغه ډېرې ابدې او تاريخي سيمې مخ په خرابېدو او يا هم بېخي له منځه تللې دي.

د بېلگې په ډول، د دغه ولايت مهمه سيمه زوړ ښار (بالاحصار) چې پخوا په کې د سلطان محمود غزنوي د سلطنت مقر و، يوه له تاريخي سيمو بلل کېږي. دغه کلا نږدې ۴۰ برجونه لري او ويل کېږي چې سلگونه کاله وړاندې دلته يو سر پټی د سرو زرو بازار هم و، چې د جنگونو له امله وران او له منځه ولاړ او تاريخي اثار او سره زر يې تر خاورو لاندې شول.

د غزني د زاړه ښار ځينې برجونه ويجاړ شوي او يا هم د له منځه تلو په حال کې دي.

په دغه ولايت کې ټول نږدې ۳۰۰ تاريخي سيمې، ابدې او مقبرې شته چې تر اوسه په تېرو لسو کلونو کې يوازې ۳۰ يې رغول شوې دي.

**موزيم**

د غزني موزيم يو مهال د هېواد له غني موزيمونو شمېرل کېده، خو په تېرو څو لسيزو جگړو کې لکه د هېواد د نورو موزيمونو په شان دغه موزيم هم زيان وليد او ډېرى تاريخي ارزښتمن اثار يې چور او تالان شول. خو په دې وروستيو کې ځيني هغه اثار چې په ياد مهال د ساتلو په موخه کابل ته لېږدول شوي وو او يا له نورو خواوو موندل شوي، بېرته غزني ته لېږدول شوي دي. خو ډېر هغه اثار يې چې بهرنيو ملکونو ته قاچاق شوي او پلورل شوي، لا هم ورک دي.

غزني د تاريخي اثارو له پلوه خورا غني ولايت دی، چې بايد په دې وروستيو کې ډېر کار ورته شوی وای، خو له بده مرغه مرکزي ادارې او په خپله د غزني چارواکو په دې برخه کې هېڅ کار نه دی کړی.

غزني مخکې يوازې د اطلاعاتو او فرهنگ په وزارت پورې اړوند يو موزيم درلود، چې هلته په کې له اسلام نه وړاندې تاريخې اثار اېښودل شوي وو. دغه موزيم اوس هم شته، خو اثار يې تر اوسه ننداری ته نه دي وړاندې شوي او له تېرو څو کلونو راهيسې يې دروازې تړلې دي.

دغه راز په وروستيو کې په غزني کې دوه نور نوي موزيمونه هم جوړ شول چې يو يې د ولايت په مقام کې په خپله د ولايت لخوا جوړ شوی او بل د غزني د اطلاعاتو او فرهنگ په رياست کې دی.

**رسنۍ**

په غزني کې رسنيزو فعاليتونو هم د پخوا په پرتله وده کړې ده، په دغه ولايت کې اوسمهال د دولتي او نادولتي تصويري، چاپي او غږيزو رسنيو شمېر تر ۴۳ پورې رسېږي.

په دغه ولايت کې د لومړي ځل لپاره د عليحضرت محمد ظاهرشاه په دوره کې د سنايي اونېزه له چاپه راووته، چې تر اوسه پورې خپرونې کوي. په ۱۳٦٦ لمريز کال کې د افغانستان ملي راډيو- ټلوېزيون شبکه فعاله شوه چې خپرونې يې له کابله په مستقيم ډول براکاسټ کولې، خو د نوي دولت (د حامد کرزي دوره) په راتگ سره په غزني کې د دولتي راډيو- ټلوېزيون او سنايي اونېزې سره په څنگ کې نورو ازادو رسنيو ته هم د فعاليت زمينه برابره شوه.

د کرزي د حکومت په لومړيو کې يوازې څو دولتي رسنيو په دغه ولايت کې فعاليت کاوه، خو له نېکه مرغه اوس په دې برخه کې پرمختگ شوی دی.

**پوهنه**

غزني که څه هم مخکې د هېواد د نورو ځينو ولايتونو په کچه د پوهنې په برخه مخکښ و، خو وروستيو څو لسيزو جگړو د دغه ولايت ښوونې او روزنې ته هم زيان اړولی او په ډېرى ولسواليو کې يې تر ډېره ښوونځي وتړل شول او څو دورې هلکان او نجونې يې له تعليمه پاتې شول.

په ټول غزني کې د انسټېټيوټ او دارالمعلمين په گډون، ټولټال ٦۳۵ بېلابېل ښوونځي شته، چې ۴۷۴۷ ښوونکي لري او ۲۴۵۹۸٦ زده کوونکي پر زده کړو پکې بوخت دي، چې ۴۵ سلنه يې نجونې جوړوي.

د غزني پوهنتون په ۱۳۸۷ لمريز کال کې جوړ او اوسمهال شپږ (د ښوونې او روزنې، شرعياتو، اقتصاد، کرنې، ادبياتو او انجنيري) پوهنځي لري.

**صنعت**

په دغه ولايت کې د کلالۍ او پوستين دوزۍ تر څنگ، مسگري، زرگري، پشمينه بافي، خامکدوزي او جامې هم د هغو صنايعو په ډله کې راځي، چې د دغه ولايت يوه برخه خلک يې پر جوړولو مصروف دي.

د پشمينه بافۍ صنعت د جغتو، ناهور، جاغوري او مالستان او د قره باغ د ځينو سيمو د خلکو فرهنگ بلل کېږي، د دغو سيمو ټولې ښځينه له وړيو د جوړېدونکو توکو اوبدل زده کوي او ډېرې کورنۍ له دې لارې د خپل ژوند اړتياوې پوره کوي.

ټغر، جوال، جورابې، دستکش، جاکټ او پشمې کمپلې چې د شالکي په نوم هم يادېږي، ډېرى د ښځو لخوا په دغو ولسواليو کې اوبدل کېږي او سربېره پر دې چې په کورونو کې ترې استفاده کوي، بهر ته هم صادرېږي.

د خامکدوزۍ صنعت هم په پورته يادو ولسواليو کې دود دی، په کليو کې ښځې دستمال، څادر، کالي، شال، خولۍ او يخنونه جوړوي. که څه هم تر اوسه ورته په بهر کې مناسب بازار نه دی موندل شوی، خو د سيمې په بازارونو کې د ډېر ارزښت لرونکي دي.

کلالي هم د غزني يو له مهمو صنعتونو څخه ده او له ډېر پخوا د سلطان محمود غزنوي له وختونو چې دغه ښار د علم او فرهنگ زانگو وه، دود ده.

پوستين گنډنه هم د دغه ولايت يو صنعت بلل کېږي، پوستين د ځانگړو مسلکي کسانو لخوا د څارويو او نورو حيواناتو له څرمنو چې ثابتې وړۍ ولري، جوړېږي. دغه جامه په دې چې گرمه ده، په ژمي کې خلک ترې کار اخلي.

د دغه ولايت مسگري هم ډېر نوم لري، مسگران او پښبان معمولاً د بزگرۍ، ترکاڼۍ او نور وسايل او لوښي لکه بېل، کلنگ، تېشه، رنده، مارتول، جبل، ديگونه او داسې نور شيزونه جوړوي او خپل پخوانی حالت يې اوس هم ساتلی دی.

خو له ډېرشو کلونو راپدېخوا ورو ورو په غزني کې د صنعت ښه کمرنگه شوې او خپل ارزښت يې له لاسه ورکړی دی. خو ويلای شو چې په دې وروستيو دوو کلونو کې لاسي صنايعو ته څه ناڅه پام شوی چې اوس په غزني ښار کې مېرمنې په خپلو لاسونو ډول ډول شيزونه جوړوي او بيا يې وروسته بازار ته وړاندې کوي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۰۵ |
| € | ۹٤ |
| Rp. | ٤۸۲ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۳,۳ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیاني

# خپل کاروبار ته په کتو سهار وختي پاڅېدل ترتیب کړئ

ژباړه: امان الله حنیفي

«د سهار وختي پاڅېدو معجزې فوق العاده دي. هغه زما په حق کې د دې باعث شوې چې زه په ژوند کې د پوره انرژۍ او تمرکز تر ټولو لوړې سطحې ته ورسېږم. جالبه پکې دا ده چې هر فرد کولای شي خپلو موخو او وخت ته په کتو سره د هغه لپاره متفاوته برنامه ولري. زما لپاره د یو وړوکي کسب وکار د څښتن او یو کلن ماشوم د مور په حیث، سهار وختي پاڅېدل د مراقبې کولو، دعا کولو، پر خپلو موخو او غوښتنو تمرکز کولو او سټریس کمولو لپاره تر ټولو ښه وخت دی. زه دا وخت د خپلو ټولو شته څیزونو له امله د خدای شکر هم په ښه ډول پر ځای کوم. موږ هر یو په اونۍ کې ۱٦۸ ساعته وخت لرو، نو ښه ده چې د سهار وختي پاڅېدو لپاره همدا اوس خپل پلان جوړ کړی، څو مو په ژوند کې هغه معجزې رامنځ ته کړي چې تر اوسه مو یې په اړه هېڅ فکر نه کاوه.»
کتي هیني

ټول څیزونه له خوبه د راپاڅېدلو له وخته تر هغه وخته چې ستاسې د سهار وختي پاڅېدو برنامه وخت نیسي، څو هغه فعالیتونه چې سر ته یې رسوی او همدارنگه د دغو فعالیتونو د وخت ترتیب، ټول کولای شو خپلو لومړیتوبونو ته په کتو سره تنظیم کړو. د سهار وختي پاڅېدو او ستاسې د ژوند د سبک د همغږۍ کولو او ډېر ژر خپلو موخو ته د رسېدو تر منځ هېڅ کوم محدودیت نشته.

موږ په همدې څپرکي کې پر پوړتنیو او دې ته ورته نورو موضوعاتو لکه د سهار چای څښلو وخت، له خپلو موخو او غوښتنو سره د سهار وختي پاڅېدو همغږي کول، هغه کارونه چې تاسې یې باید د اونۍ په اخر کې تر سره کړی، پر تنبلۍ د برلاسي کېدو او پر ډېرو نورو موضوعاتو خبرې کوو.

**• له خوبه د راپاڅېدو او کارونو د شروع کولو وخت**

ممکن هغه وخت چې غواړم تاسې ته یې ووایم، یوڅه غیر منطقي په نظر درشي، دا هم اجباري نه ده چې تاسې دې د سهار وختي پاڅېدو ټول فعالیتونه حتماً سهار سر ته ورسوی.

**رښتیا؟**

البته چې سهار وختي پاڅېدل او په فعاله ډول د ورځې پیلول بې شمېره گټې لري. له دې سره سره، ممکن ځینې کسان په فرد پورې تړلې د شخصي ودې برنامه د سهار پر مهال سمه سر ته ونه رسوي. مسلماً هغه کس چې تر ډېره کار کوي، د سهار پر مهال د پاڅېدو متفاوت عادت ولري. دې موضوع ته په کتو چې هرڅوک د ژوند بېلابېله بڼه لري، د سهار وختي پاڅېدلو حالت چې معمولاً په هر فرد پورې تړلې موضوع ده، د ټولو لپاره یوه ثابته تگلاره ده. نو پر دې اساس کولای شو چې هرڅوک خپلې دندې او کار ته په کتو د شخصي ودې او پرمختگ لپاره وخت ځانگړی کړي.

**کوم څه، په کوم وخت کې او ولې د سهار چای پر مهال وخورو؟**

ممکن دا پوښتنه درته پیدا شوې وي چې څنگه د سهار وختي پاڅېدو په برنامه کې مو د سهار چای څښلو ته وخت ورکړی او کوم وخت د سهار چای څښلو لپاره مناسب دی؟ موږ پر همدې موضوع دلته خبرې کوو. د سهار چای څښلو پر وخت سربېره، دا چې تاسې څه خوری، دا تر ټولو ډېر ارزښت لري او ممکن د هغه د «ولې» دلیل بیا تر ټولو مهم وي.

کوم وخت د سهار چای وڅښو؟ دا په یاد لرئ چې په ښه ډول د غذا هضمول زموږ د جسمي او ذهني حالت د ښه کنټرول لپاره ډېر مهم دي. هرڅومره چې تاسې پس پس ډوډۍ خوری، هماغه دې چې ستاسې معده بیا په ښه ډول هضم کولای شي او بالاخره د دغه کار پایله به دا شي چې ستاسې د وجود انرژي به هر وخت پوره وي. ځکه دا وخت به یو په یو ستاسې په معده بوج نه وي راغلی او په ښه ډول به هضم کولای شي.

دې موضوع ته په پام سره تاسې ته سپارښتنه کوم چې له سهار وختي پاڅېدو وروسته مو د سهار چای څښلو وخت او خوراک ته ډېر پام وکړئ. په دې کار سره اطمینان حاصلوی چې د دغو فعالیتونو د سر ته رسولو پر مهال ستاسې د وینې فشار مغز ته هدایت کېږي نه خېټې ته او بالاخره تاسې ته مطلوب تمرکز او ارام فکر برابروي. که داسې احساس کوی چې په هماغه سهار کې باید یوڅه وخوری، هڅه وکړئ چې ډېر کم، نرم او ښه کیفیت لرونکې غذا وخورئ.

ولې یې وخورو؟ اجازه راکړئ چې د ډوډۍ خوړلو د ضرورت په اړه یوڅه خبرې درته وکړم. کله چې تاسې په رسټورانټ کې د مینو له مخې د یوې غذا انتخاب کوی، هغه وخت به د غذا انتخابولو لپاره له کومو معیارونو استفاده کوی؟ ایا ستاسې انتخابونه به یوازې د خوند پر اساس وي؟ ایا د غذا ظاهري بڼې ته په کتو به انتخاب کوی؟ او یا هم دا چې ستاسې انتخاب به روغتیا ته په کتو وي؟ او که انرژۍ ته په کتو؟

ډېری کسان غذا د هغه د خوند پر اساس ټاکي او کله کله دا انتخاب له هغه سره د مینې له امله هم کوي. که له یو چا وپوښتی: «په کوم دلیل معدني اوبه څښې؟» «ولې نوشابه څښې؟» او یا هم «ولې د سور کړی چرگ له رسټورانته راغوښتی؟» په ډېر زیات احتمال سره چې داسې ځواب به درکړي: «اممم، زه له معدني اوبو سره مینه لرم، ځکه هغه د صحت لپاره ښې دي. ځکه چې زما نوشابه خوښېږي. هسې مې سور کړي چرگ ته زړه وشو.» دا ټول انتخابونه د خوند پر اساس شوي دي. په دې اړه به ډېرو کمو کسانو انتخاب بدن ته د هغه غذا د شته ویټامینونو او یا هم نورو ارزښتونو له مخې وي. زما منظور دا دی که چېرې موږ غواړو چې ډېره انرژي ولرو او غواړو چې سالم ژوند او ښه روغتیا ولرو، باید همدا اوس په دې اړه ښه ارزونه وکړو چې ولې موږ یوه غذا د غرمې ډوډۍ او یا هم بل وخت خوراک لپاره انتخابوو. دا موضوع ډېر زیات اهمیت لري. هڅه وکړئ چې د غذا انتخابولو پر مهال د هغه له خوند زیات د هغه غذایي ارزښت په پام کې ونیسئ. زه درته دا هېڅکله نه وایم چې تاسې د ښې روغتیا لپاره بې مزې خواړه انتخاب کړی، زما منظور دا دی چې دواړو هم د غذا خوند او هم د بدن لپاره د هغه ارزښت په پام کې ونیسئ. زه له ځان سره وایم، که غواړم چې هره ورځ د پوره انرژي ولرم او په ښه ډول د یو کار تر سره کړای شم او له دې سره سره د ښه روغتیا او اوږد عمر ولرم، باید هغه غذا انتخاب کړم چې هم ښه خوند ولري او هم د بدن لپاره گټور ویټامین پکې وي.

له کومو غذاوو استفاده وکړو؟ په دې اړه له خبرو کولو مخکې چې څه وخورو، اجازه راکړئ څو په دې اړه درته لږ خبرې وکړم چې کوم څیزونه باید وڅښو. په یاد راوړئ چې له خوبه د راویښېدو د ستراتیژۍ له پنځو مرحلو څلورمه مرحله دا وه چې هر سهار باید تر هرڅه مخکې یو گیلاس اوبه وڅښئ. څو وشی کولای له یوې پوره شپې خوب وروسته د خپل بدن اوبه پوره کړی او دویم ځل خپله انرژي په لاس راوړی.

له هماغې ورځې وروسته زه هر سهار د یو گیلاس ښه دم شوي چای په څښلو سره پیلوم او د همدې کار لپاره زه هر سهار د خپل ساعت زنگ ۱۵ دقیقې مخکې برابروم. څو بیا وشم کړای په ښه ډول د ځان لپاره چای دم کړم. که ستاسې قهوه خوښېږي، ارام اوسئ او د ځان لپاره مو یو گیلاس قهوه جوړه کړئ.

څو د خوراکي څیزونو په اړه بیا له یو ثابت غذایي رژیم لکه تازه میوو، سبزیجاتو، لبنیاتو او کم غوړ لرونکو حبوباتو څخه استفاده وکړئ. څو په دې ډول سره هم د خپل بدن مصرف شوې انرژي بیرته واخلی او هم ښه جسمي او ذهني کنټرول ولری.

## خلیلزاد: افغان جگړې مشروعیت بایللی، ښکېل اړخونه دې بېړنی اوربند وکړي

د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد پر حکومت او طالبان غږ کړی چې د خلکو غوښتنو ته درناوی ولري او ژر تر ژره یوې سیاسي موافقې ته ورسېږي. نوموړي دغه څرگندونې په خپل ټویټر کې د غزني د گیلان ولسوالۍ د چاودنې په غبرگون کې کړې دي. په یاده چاودنه کې چې درې ورځې مخکې د گیلان ولسوالۍ په اغوجان کلي کې وشوه، د کورنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، په دې چاودنه کې ۱۵ ماشومان ووژل شول او شاوخوا ۲۰ نور ټپیان شول.

خلیلزاد د دې چاودنې د غندنې ترڅنگ ویلي چې د افغانستان په جگړه کې ښکېلې خواوې باید ژر تر ژره تاوتریخوالی کم کړي او یوې سیاسي موافقې ته ورسېږي، څو په هېواد کې یې روان بحران پای ته ورسېږي. هغه زیاته کړې: «د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او طالبان باید د خلکو غوښتنو ته درناوی ولري او ژر تر ژره یوې موافقې ته ورسېږي، امریکا د افغانستان د خلکو په خوا کې ولاړه ده.»

د خلیلزاد په وینا، د امریکا او طالبانو د دوحې تړون او د امریکا او افغانستان گډې اعلامیې په رڼا کې نړیوالې ټولنې د افغانستان له سولې پروسې ملاتړ کړی او په افغانستان کې جگړې نور خپل مشروعیت له لاسه ورکړی دی. ده ویلي چې امریکا او نړیواله ټولنه په افغانستان کې روان تاوتریخوالی او د وینې تویېدنه په کلکه غندي. هغه له ټولو افغان ښکېلو خواوو غوښتي چې تاوتریخوالي ته د پای ټکی کېږدي او ژر تر ژره اوربند ته لاره هواره کړي.

خلیلزاد دغه راز ویلي چې د جگړې دواړه لوري دې د چاودېدونکو توکو له کارولو ډډه وکړي، څو د عامو افغانانو ژوند له گواښ سره مخ نه شي. هغه د غزني چاودنې ته په اشارې ویلي: «د غزني د چاودنې خبر ډېری قربانیان یې ماشومان وو، زړه بوږنوونکی و، موږ د دې پېښې له قربانیانو سره په غم کې شریک یو.» طالبانو په دې پېښه کې لاس لرل رد کړي او ویلي یې دي چې د زړې سرگلولۍ له امله چاودنه شوې وه. دا په داسې حال کې ده چې د کورنیو چارو وزارت ویل چې طالبانو په تېرو دریو میاشتو کې ۳۵ ځانمرگي بریدونه او ۵۰۷ چاودنې کړې چې له امله یې تر ۱۵۰۰ زیاتو ملکي وگړو ته مرگ ژوبله اوښتې ده.

## اوچا: له ۱٦ میلیونو ډېر افغانان بشري مرستو ته اړتیا لري

ملگري ملتونه وایي، راتلونکي ۲۰۲۱ز کال کې به د هغو افغانانو شمېر زیات شي، چې خوراکي توکو او نورو بشري مرستو ته اړتیا لري. دغه سازمان د افغانستان اوسنی نفوس شاوخوا ۴۰ میلیونه ښیي او وایي، په دې ډله کې نږدې نیمایي یې بشري مرستو او لاسنیوي ته اړتیا لري.

د دغه سازمان د بشري مرستو د همغږۍ اداره یا اوچا وایي، افغانستان د نړۍ په کچه دویم هېواد دی چې ډېر وگړي یې د خوړو د نه خوندیتوب له گواښ سره مخ دي.

اوچا د ۲۰۲۱ز کال په ارزونه کې ویلي، اوسمهال څه باندې ۱٦ میلیونه افغانان بشري مرستو ته اړتیا لري او له ډلې یې پنځه نیم میلیونه داسې دي، چې د خوړو د نه خوندیتوب له بېړني حالت سره مخ دي.

د دوی په وینا، په ۲۰۲۱ ز کال کې به هم وضعیت همداسې دوام کوي او بشري مرستو ته د اړو افغانانو شمېر به پکې نږدې ۱۸ نیم میلیونه شي.

له دغه گواښ سره مخ ډېری یې هغه شاوخوا څلور میلیونه کسان دي چې په کور دننه بې‌ځایه شوي او له گڼو اقتصادي او ټولنیزو ستونزو سره لاس او گرېوان دي.

په ورته مهال افغان چارواکي هم مني چې وضعیت کړکېچن دی، خو ډاډ ورکوي چې دوی له همکارو موسسو سره یوځای د ژغورنې پلانونه لري.

د ولسمشر د دویم مرستیال سرور دانش د مطبوعاتي دفتر مشر محمد هدایت ویلي، حکومت د ملي دسترخوان د پروگرام په څېر د بې‌وزلو لاسنیوي ته ځینې پلانونه لري.

هغه ویلي: «موږ د ولسي تړون پروگرام لرو چې د افغانستان په اکثرو ولسوالیو کې د عملي کېدو په حال کې دی، له کرونا سره د مبارزې په برخه کې د دولت بل لوی پروگرام د ملي دسترخوان پروژه ده، د دې پروژې هدف د بې‌وزله کسانو او کورنیو بې‌ځایه شویو او کډوالو ملاتړ دی، څه باندې ۹۰ فیصده افغانان به د ملي دسترخوان له پروژې برخه‌من شي، دا پروگرام پیل شوی او گام پر گام ټول هېواد ته رسېږي.»

د ملگرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ اداري، په هغې ارزونه کې چې روانه اونۍ یې رسنیو ته لېږلی، ویلي چې له تېرو پنځو کلونو راهیسې په افغانستان کې بشري وضعیت مخ پر ځوړ روان دی. طبیعي افتونه، زیاتېدونکې بې‌وزلي او کرونا وبا هغه ستونزې دي چې د اوچا په باور، د گڼو افغانانو بشري وضعیت‌یې ځپلی دی.

دوی ویلي، پر دغو ستونزو سربېره، جگړه او تاوتریخوالی بل ستر لامل دی چې پر افغانانو یې د ژوند کړۍ تنگه کړې. ملگري ملتونه وایي، د سولې له هڅو سره سره تاوتریخوالی روان دی چې افغانان یې په فزیکي او رواني لحاظ سخت ځپلي دي.

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

“غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!”

WAYGAL PRINTING CO

if You Can Think it, we Can ink it.

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696 | waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul | waygalprinting.co@gmail.com



Maseer Daily
New Vision, New Journey

دوشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومي لومړۍ | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۲۱مه | ٦٤٩مه گڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | ۱۱ | ۱۵ | ۳۵ | ۲۰ | ۱۷ |
| -۲ | -۲ | -۱ | ۲۲ | ٤ | ۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۷ | لمر ختل ۰٦:۵٦ | ماسپښين ۱۱:۵۲ | مازيگر ۰۳:۰۹ | ماښام ۰٤:٤۷ | ماخوستن ۰٦:۱۷

## نړۍ




## چین: د کرونا ضد واکسین مو ډاډمن دی او کلینیکي پړاوونه يې ښه روان دي

د کووېد-۱۹ضد واکسين جوړولو لپاره د چين د حکومت لخوا د ځانگړي شوي ټيم مسوول جنگ جونگ وی د ډسمبر په ۱۹مه نېټه د کرونا وبا په اړه د چين د حکومت په يوه مطبوعاتي غونډه کې وويل، کله چې چين د روان کال په جون کې په خپل هېواد کې د کووېډ-۱۹ ضد دريو واکسينونو بېړنيو کارولو ته اجازه ورکړې، تراوسه څه باندې يو ميليون ډوزه واکسينونه ورکول شوي دي. دی وايي، دغو واکسينو هېڅ د انديښنې وړ جانبي عوارض نه دي رامنځته کړي. نوموړي زياتوي، دغه څه د يادو واکسينونو د خونديتوب ښکارندويي کوي. د دې ترڅنگ چين په تېره جولای میاشت کې په بهرنيو هېوادونو کې د خپلو واکسينونو د دريېم پړاو کلينيکي ازمويني پيل کړې او تر اوسه يې په بهير کې هېڅ کوم خنډ نه دی رامنځ ته شوی. د چين د روغتيا ملي کمېټې د ناروغيو کنټرول ځانگې مسوول څوی گانگ په ياده مطبوعاتي غونډه کې وويل، اوس په هېواد کې د کرونا ضد واکسين د سرتاسري تطبيق چارې پيل شوې او لومړی به واکسينونه د وارداتي، عامه ترافيکي او طبي چارو کارکوونکو په گډون اړمنو کسانو ته ورکول شي.

## امریکا د وروستیو انټرنېټي بریدونو په غبرگون کې په روسیه کې خپلې کونسلگرۍ تړلي




د امریکا او روسيې ترمنځ د تازه کړکېچ په دوام، امريکا ویلي غواړي چې په روسیه کې خپلې وروستۍ دوې پاتې کونسلگرۍ بندې کړي او يوازې په مسکو کې سفارت پرېږدي. د متحده ایالاتو د بهرنيو چارو وزارت دا پرېکړه په داسې حال کې تایید کړې چې د امریکا او روسيې اړیکې ورځ تر بلې د خرابېدو په حال کې دي. دغه وزارت ویلي چې د روسيې د لېرې ختيځ په ویلادي واستوک او همداراز د دغه هېواد په څلورم ستر ښار یکاتیرین بورگ کې د خپلو کونسلگریو فعالیت دروي. د امریکا د بهرنيو چارو وزارت ویاند په یوه بیان کې ویلي چې د بهرنيو چارو وزیر مایک پمپیو په مسکو کې د سفیر جان سلیفان په مشوره پرېکړه وکړه چې دواړې کونسلگرۍ بندې کړي. دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د امریکا پر یو شمېر ادارو انټرنېټي بریدونه وشول. د امریکا متحده ایالتونو دغه راز ويلي چې په دغو بریدونو کې روسيې په مستقیم ډول لاس درلود.

د امریکا د بهرنيو چارو وزیر مایک پمپیو په یوه ټلوېزیوني خپرونه کې ویلي، د امریکا په حکومتي سیستمونو کې اساساً د یو لړ کوډونو د ځای پر ځای کولو لپاره د دریېمگړي د سافټوېر د کاروني د پام وړ هڅې شوې دي.

هغه زیاته کړې، دا څرگنده خبره ده چې په دغه ډول فعالیت کې روسان دخیل دي، خو روسيې تر دې مهاله د پمپیو د دغو تورونو په اړه څه نه دي ویلي.

## ارگ: حملات بر افراد و تاسیسات ملکی، پروسهٔ صلح را آسیب می رساند



رئیس جمهور غنی، ضمن تقبیح انفجار دیروز در شهرکابل گفته است که حملات تروریستی بالای اهداف و تاسیسات ملکی، پروسهٔ جاری صلح، فرصت ها و امید مردم را آسیب می رساند.

در خبرنامه ای که از ارگ منتشر شده آمده است: «رئیس جمهور غنی، ضمن محکوم نمودن شدید حملات تروریستی و انفجارات اخیر در کابل، بلخ، ننگرهار، هلمند و سمنگان، گفته است که طالبان از جنگ نامشروع شان بر ضد مردم افغانستان و آسیب رسانیدن به تاسیسات عام المنفعه دست بردارند و خواست مردم، حکومت و جامعه بین المللی را برای آتش بس دایمی و صلح پایدار، بپذیرند.»

موصوف خاطرنشان کرده که حملات تروریستی بالای اهداف و تاسیسات ملکی، پروسه جاری صلح، فرصت ها و امید مردم را آسیب می رساند.

رئیس جمهور در ادامه گفته است که اگر طالبان و سایر گروه های تروریستی از تداوم جنگ و افغان کشی دست بر ندارند، نزد خداوند و ملت افغانستان پاسخگوی اعمال شنیع شان خواهند بود.

وی ضمن تسلیت و همدردی با خانواده های قربانیان رویدادهای متذکره، برای وکیل خان محمد وردک و سایر مجروحین، صحتمندی کامل آرزو نموده و به ارگان های مربوطه بخاطر رسیدگی به خانواده های قربانیان و شناسایی عاملین رویدادهای تروریستی و مجازات آنان، هدایات لازم صادر کرد.


## ژونـــد

## ستونزو ته د یوه فرصت په توگه وگورئ



ژوند له ستونزو او کړاوونکو ډک دی. ژوند د خوښيو او خپگانونو ټولگه ده. نو که په ژوند کې له کومې ستونزې سره مخ کېږی، ښه ده چې له ځانه وپوښتئ، ولې دغه شی ستونزمن دي؟ ځکه انسانان یو خلاق او فوق العاده ذهن لري چې کولی شي هر ډول ستونزې حل کړي. زموږ د ذهن خلاقیت د دې جوگه دی چې را ولاړې شوې ټولې ستونزې په ډېرې اسانۍ سره حل کړي، نو بیا ولې ستونزې ته ستونزه وویل شي؟ هڅه وکړئ چې تل ستونزو ته د یوه فرصت په توگه وگورئ چې تاسو ته درکړل شوی، څو بریا ته د رسېدو لپاره ترې پوره استفاده وکړی. دغه څه یوازې د قوي مدیرانو ځانگړنه ده. د بشري تاریخ تر ټولو ستر حقیقت دا دی چې په هره ستونزه او سختۍ کې یو قوي درس نغښتی دی، چې کولی شي په راتلونکي کې تاسو د بریا لور ته سوق کړي.

## نوکیا دوه ځیرک موبایلونه معرفي کړل



دغه ځیرک موبایلونه نوکیا۵.۴ او نوکیا سي۱ پلس نومول شوي دي. نوکیا کمپنۍ تېر کال سي۱ او د همدې کال په مارچ کې سي۲ خرڅلاو ته وړاندې کړی و، چې نوکیا سي۱ پلس د نوکیا سي۱ نوې او پرمختللې بڼه ده. دغه ځیرک موبایل ۵,۴۵ انچه اېل سي ډي ډوله مخپاڼه لري او له ۴جي څخه ملاتړ کوي. نوکیا کمپنۍ ادعا کوي چې دغه ځیرک موبایل له ۴جي څخه ملاتړ کوونکی تر ټولو ارزان بیه ځیرک موبایل دی. نوکیا سي۱ پلس ۲۵۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ لري او بیه یې یوازې ٦۹ یورو ټاکل شوې ده.

**نوکیا۵.۴**

دغه ځیرک موبایل د نوکیا کمپنۍ منځنۍ وړتیا لرونکی ځیرک موبایل دی، چې ٦,۳۹ انچه اېل سي ډي ډوله مخپاڼه لري. دغه ځیرک موبایل کې ۴ گېگابایټ رم او ٦۴ – ۱۲۸ گېگابایټ د فایل ثبتوني وړتیا ورکړل شوې او انډرایډ۱۰ عامل سیستم سره به خرڅلاو ته وړاندې شي. نوکیا۵.۴ کې ۴۰۰۰ ملي امپیره وړتیا لرونکې بېټرۍ ورکړل شوې چې له ۱۰ واټ چټک چارج څخه هم ملاتړ کوي. د دغه ځیرک موبایل بیه ۱۸۹ یورو ټاکل شوې ده.


عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بتوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او گټې لکه: بایومتریک ننوتل-د گوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انگلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ ستېټمنټ لېدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپسټور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینگه کړئ.

1515 | www.azizibank.af